# د HENRICO کاونټي د سیلابونو نقشې تازه معلومات

# مکرراً پوښتل شوې پوښتنې

Henrico کاونټي د فدرالي بیړني مدیریت ادارې (FEMA) سره د کلونو راهیسې ګډ کار کوي ترڅو د اوسني سیلاب د خطر نقشه جوړه کړي. دا نقشې، چې د سیلاب بیمې نرخ نقشې (FIRMs)، په نوم هم یادیږي د اپریل په 25 مه، 2024 کې به پلي شي.

د معلوماتو دا پاڼه د دې لپاره چمتو شوې چې د اوسیدونکو او د سوداګرو پوښتنو ته د پروسې، مهالویش، سیلاب اغیزو، او د FEMA د راتلونکي سیلاب خطر نقشې او همدارنګه د نورو معلوماتو اړوند ځواب ووایي.

**1. د سیلاب د خطر نقشې څه شی دي؟**

د سیلاب د خطر نقشې، چې د سیلاب بیمې نرخ نقشې (FIRMs) هم ویل کیږي د سیلاب د خطر کچه ښیي او په Henrico کاونټي کې د ژوند او ملکیتونو د ساتنې په هڅو کې مهمې وسیلې دي. د FEMA لخوا د سیلابونو د مدیریت او د ټولنې پلان جوړونې لپاره ډیزاین شوې نقشه د ټولنې د سیلاب زونونه، د سیلابونو بنسټیز لوړوالی (BFEs)، او د سیلابونو د ساحې سرحدونه راښیي.

**2. ولې Henrico کاونټي د سیلاب د خطر نوې نقشې ترلاسه کوي؟**

د Henrico کاونټي لپاره د سیلاب اوسنۍ نقشې پخوانۍ دي ځکه چې دا نقشې د 2007 کال او پخوانیو معلوماتو او ماډلینګ پراساس ډیزاین شوې. د وخت په تیریدو سره، د اوبو جریان او د اوبو وتل کولای شي د سطحې تخریب، نفوذ، او طبیعي پېښو له امله په ډراماتیک ډول بدلون ومومي. د دغو عواملو پر بنا په ځینو سیمو کې د سیلابونو احتمال بدلون مومي.

د سیلاب نوې نقشې نوي ډیټا د وروستي ماډلینګ ټیکنالوژۍ سره مدغم کوي ترڅو د Henrico کاونټي د سیلاب خطر تازه انځور چمتو کړي. پایله - د هغو سیمو یو ښه انځور چې د سیلابونو لخوا اغېزمن کېدو احتمال یې ډیر وي ن او یو ښه بنسټ چې له هغې څخه کلیدي پریکړې وکړي رامنځته کیږي.

**3. د نوي سیلاب د خطر نقشې څخه څوک ګټه اخلي؟**

د ډیرو نویو او دقیقو نقشو درلودل به ګڼو خلکو ته په بیلابیلو لارو ګټه ورسوي:

- د سیمې اوسیدونکي او سوداګر به د دې وړتیا ولري چې د خطر کمولو او د سیلاب له مالي پایلو څخه د دوی ملکیت بیمه کولو کې غوره پریکړې وکړي.
- د ټولنې پلان جوړونکي او ځایي چارواکي به د سیلاب د خطرونو او امکاناتو په اړه ډېره پوهه ترلاسه کړي چې پر Henrico کاونټي اغیزه کوي نو دوی کولی شي ځایي فعالیتونه ښه پلان کړي.
- ساختماني ټېکه داران او جوړونکي به د تصمیم نیولو لپاره لا زیاتو مفصلو معلوماتو ته لاسرسی ولري ترڅو له دوی سره د دې په پوهېدو کې مرسته وکړي چې څنګه ساختمانونه د ځایي سیلابونو خطر کچه راکمه کړي.
- د بیمې، حقیقي ملکیت، او پور ورکوونکي مسلکي کسان به تازه معلوماتو او نویو بدلونونو ته اسانه آنلاین لاسرسی ولري ترڅو خپلو پیرودونکو او ټولنې ته په اغېزناکه توګه خدمت وکړي.

**4. د لوړ خطر لرونکي ساحه څه ده او زه څنګه معلومه کړو چې زموږ ملکیت نوموړي سیمه کې موقعیت لري؟**

په Henrico کاونټي کې د سیلاب لوړ خطر لرونکي سیمې د SFHA په توګه پیژندل شوي چې د FEMA SFHAs او SFHAs دواړه درلودونکي ده. دغه سیمې اکثرا د سیلابونو په توګه وړاندي شوي یا د "100 کلن سیلاب زون" کې موقعیت لري. د "100 کلن سیلاب " اصطلاح غولونکي کیدای شي. دغه ساحه په دقیق ډول د سیلاب لوړې سیمې په توګه پیژندل کیږي چې سیلاب سره د مخامخ کیدو 1 سلنه چانس لري. هغه اوبه چې هر سل کاله وروسته راځي سیلاب نه بلل کیږي. داسي هېڅ د وړاندوینې کومه لاره نشته چې راتلونکی سیلاب اټکل یا معلوم کړي.

سر ورښکاره کړئ

henrico.gov/works/design/floodplain/map-updates د لازیاتو معلوماتو او تازه او نویو نقشو لیدلو لپاره. په ویب پاڼه کې د راتلونکو پیښو او نورو مرستندویه سرچینو په اړه توضیحات هم وړاندي شوي دي.

**لنډیزونه**

| | |
|---|---|
| **BFE** – د سیلاب جیګوالی | **LOMC** – د نقشې د بدلون لیک |
| **FEMA** – د فدرالي بیړني مدیریت اداره | **NFIP** – د سیلاب بیمې ملي پروګرام |
| **FIRM** – د سیلاب بیمې اندازې نقشه | **SFHA** – د ځانګړي سیلاب خطر سیمه |
| **LOMA** – د نقشې د تعدیل لیک | |

**تاسو باید پوه شئ**

د FEMA لخوا چمتو شوي د سیلاب د خطر ارزونې او نقشې ډیزان کولو سربیره Henrico کاونټي کې داسي نورې سیمې هم شته چې د سیلاب خطر سره مخ او د SFHAs لخوا له وړاندي ډیزاین او سروې شوې دي. دغه سیمې د FEMA نقشې نویو معلوماتو برخې په توګه نه دي پیژندل شوي، مګر نوي شوي او ممکن په 2025 کې بشپړې شي. کولای شئ نور معلومات په henrico.gov/works/design/floodplain/map-updates کې ومومی. همدارنګه د نوموړي کاونټۍ لخوا پیژندل شوي د ځانګړي سیلاب خطر سیمو په اړه د نورو معلوماتو او ځانګړي نظرونو لپاره 8 پوښتنه وګورئ چې په دوی باندې پلي کیږي.



Henrico County VIRGINIA

د نورو معلوماتو لپاره د Henrico نقشې تازه ویب پاڼې ته سر ورښکاره او د QR کوډ سکن کړئ.

**5. د بیلابیلو زونونو ډیزاینونه څه معنی لري؟**
لاندې جدول د Henrico کاونټي کې د سیلابونو په نقشو کې لیدل کیږي چې د سیلاب زون ډیزاینونو لپاره توضیحات وړاندې کوي.

| د زیان کچه | د سیلاب خطر زون |
|---|---|
| **د لوړ سیلاب خطر** | **AE او A زون.** په دغو زونونو کې ودانۍ په هر کال کې د سیلابونو سره د مخ کیدو 1 سلنه چانس لري. دغو سیمو ته د SFHA یا 100 کلن سیلاب میدان هم ویل کیږي.<br><br>ټول هغه پرمختګونه چې په نوموړي سیمه کې واقع کیږي، تنظیمي تغیرات وربانديپلي کیږي. همدارنګه د هغو کور د مالیکن چې د حکومت څخه ګروي لري اړ دي چې د سیلاب بیمه ترلاسه کړي.<br><br>په هغه ساحو کې چې د سیلاب لوړ خطر امکان لري، د 30 کلونو په موده کې د سیلاب احتمال ممکن 26% سلنه ولري. |
| **د منځني سیلاب خطر** | **تت X زون** نوموړي ملکیتونه په هر کال کې 0.2% د سیلاب چانس لري. دغو سیمو ته د 500 کلن سیلاب ساحه هم ویل کیږي.<br><br>ځینې مقرراتي تغیرات په نوموړي سیمه کې د تاسیساتو او مهمو ودانیو د ساتلو لپاره پلي کیږي. |
| **د کم سیلاب خطر** | **X زون (بې رنګه)** نوموړي ساحې په کل کې د سیلاب په ټیټ خطر سیمه کې موقیعت لري. په دغو زونونو کې خطر کم شوی، مګر له منځه ندی وړل شوی. |

**6. دا څه معنی لري چې زما د سیلاب خطر ډیر شوی؟**
هغه ملکیتونه چې د سیلاب خطر سره مخ کیدونکو په توګه پیژندل شوي د لاندې حالتونو لرونکي دي:

- کله چې د موجوده FEMA SFHA اندازه زیاتیږي نو دا معنی چې د FEMA SFHA ساحه لړ تر لړه په یو ځای کې د سیلاب ډیروالی تجاوز کوي.
- د موجوده ټولنې SFHA سره زیاتیدنه چې موجوده FEMA SFHA کې رامنځته کیږي دا معنی لري چې FEMA SFHA لړ تر لړه په یو ځای کې د سیلاب د ډیروالی نور هم تجاوز کوي.
- د موجوده ټولنې د SFHA زیاتیدنه رامنځته کیږي چیرې چې FEMA SFHA د لومړي ځل لپاره نقشه کیږي.
- هغه ساحې چې د FEMA ټولنې یا SFHA شتون ونلري چیرې چې FEMA SFHA د لمړي ځل لپاره نقشه کیږي.

په ځینو مواردو کې ممکن داسې سیلاب رامنځته شي چې په یوه وخت کې هم زیات او هم کم شي کله چې د سیلاب ساحه ممکن مستقیمه لاره ونلري. د SFHA حدونو کې زیاتوالی موږ ته ښیي چې BFE زیات شوی، یعني د سیلاب اوبه اټکل کیږي چې د پخوا په پرتله ممکن ډیر رامنځته شي. د سیلاب د زیاتیدونکي خطر سربیره اضافي تنظیمي او د سیلاب بیمې پیرود اړتیاوې کیدای شي په ځینو ځایونو کې پلي شي.

پداسې حال کې چې ممکن ستاسو د ځای د سیلاب بیمې پروګرام (NFIP) بیمې اندازه بدلون ونه مومي نو ممکن ستاسو ودانۍ نوي نورمونه ولري (د نورو جزیاتو لپاره د مکررو پوښتل شوو مه پوښتنو 8 نمبر پوښتنه وګورئ).

**7. کچیرې زموږ ودانۍ په SFHA کې نوې نقشه شوې وي نو څه به راپیښ شي؟**
کچیرې نوي نقشې په ګوته کوي چې ستاسو ملکیت په SFHA کې نوې ودانۍ اضافه شوې نو تاسو به د قانون له مخې د سیلاب بیمې پالیسي پیرود ته اړتیا ولرئ څکه چې تاسو د فدرالي تنظیم شوي یا بیمه شوي پور ورکوونکي څخه ترلاسه کوئ، کله چې نقشه د 2024 کال د اپریل په 25 اغیزمن شي. که تاسو ګروي نلرئ نو تاسو اوس هم په کلکه توصیه کیږي چې د سیلاب بیمه ترلاسه کړئ څکه **چې ډیری د سیلاب بیمې د کور مالکین او کرایه کوونکي تر پوښښ لاندې نلري**. که ستاسو ملکیت د سیلاب لوړ خطر په ساحه کې موقیعت ولرئ نو اړینه ده چې تاسو د سیلاب د بیمې د پوښښ لاندې راشئ.

د نقشې د بدلون د مالي اغیزو کمولو کې د مرستې لپاره، NFIP د SFHA د اول کال لپاره د هغه ودانیو لپاره چې SFHA ته اضافه شوي وي **اضافي تخفیف** وړاندیز کوي. د بیمې اندازه به هر کال په تدریجي ډول لوړه شي تر هغه پورې چې د سیلاب د خطر اندازه صفر ته راښکته شي. که تاسو د د سیلاب بیمه د نا-NFIP یا شخصي شرکت څخه ترلاسه کړئ، ممکن هغوی مختلف قواعد او تګلاره ولري. د نورو جزیاتو لپاره د خپل بیمې نماینده سره خبرې وکړئ. کولای شی نور معلومات دلته ومومئ [www.floodsmart.gov/flood-map-updates](http://www.floodsmart.gov/flood-map-updates).

سربیره پردې، د سیلابونو د اړینې اړتیاوې په SFHA کې په ودانیو باندې پلي کیږي او ممکن نور محدودیتونه هم شتون ولري. چې کیدای شي پرمختګونه، زیاتیدنې، او نورې کړنې ترسره شوي وي (د نورو جزیاتو لپاره د مکررو پوښتل شوو پوښتنو 9 نمبر پوښتنه وګورئ)..

**8. زموږ ملکیت د ټولنې SFHA کې موقعیت لري نو زه کومو معلوماتو ته اړتیا لرم؟**
د Henrico کاونټي SFHA د FEMA او د ټولنې SFHAs دواړو څخه رامنځته شوي ده. نوموړې سیمې د سیلاب د لوړ خطر ساحه کې موقیعت لري چې د کاونټۍ د سیلابونو په قانون کې رامینځته شوي پراختیایي محدودیتونو تابع ده. د سیلاب میدان قانون موخه د Henrico اوسیدونکو روغتیا، خوندیتوب، او عمومي هوساینې ته وده ورکول، ساتنه، او د سیلاب زیانونه کمول دي. که تاسو په دې اړه پوښتنې لرئ چې د SFHA سره نږدې یا په خپل ځای کې څه ترسره یا نه ترسره کولای شی نو زموږ د مرستې ټیم سره په 804-501-7463 اړیکه نیولای شئ. د SFHAs ټولنې ته تازه معلومات د اضافه کیدو په حال کې دي او تمه ده چې په 2025 کې بشپړ شي. د نورو معلوماتو لپاره لیدنه وکړئ [henrico.gov/works/design/floodplain/map-updates](http://henrico.gov/works/design/floodplain/map-updates).

پداسې حال کې چې تاسو د فدرالي تنظیم شوي یا بیمه شوي پور ورکوونکي څخه ګروي لرئ نو د SFHAs ټولنه کې د سیلاب بیمې پوښښ درته لازمي ندی او تاسو ته سپاربښتنه کیږي چې ډیری د کور مالکین او کرایه کونکي د بیمې پالیسۍ د سیلاب زیان تر پوښښ لاندې نلري.




د سیلاب د 40 سلنې څخه ډیر اوبه دباندې ساحو څخه راځي یعني هغه ساحو کې چې بیمه اخیستل لازمي دي.